# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



ليکوال: شريف بهاند


۲۰۱۱. ۰۱. ۱۲

# طبيعي زيرمې

## د سوکالۍ وسيله او که د جګړې لامَل؟

## ۲

دربيمه زريزه:

او د طبيعي توکو پر سر سره جګړه:

د تاريخي پينليکو له څيرنو دا روښانه شوه، چې ځنګه طبيعي توکي په تيره شيطاني اوبنکي، تيل او له هغو سره غاړه غاړې سپيڅلي لمبه، ګاز په نړۍ کې د سترو بدلونونو لامَل شوه. طبيعي توکي ځنګه ځينو ته د بدمرغۍ وسيله او ځينو نورو ته د نيکمرغۍ لامَل، ځينو ته هم د ماتې وسيله، خو بيا د نورو لپاره د برياوو بنسټ شول. ځنګه شيطاني اوبنکه او سپيڅلي لمبه د نورو طبيعي اومه توکو تر څنګ د ځمکې له تورو تيارو راويستل او بيا د دوي هر يوې بيلګې ته، د څواکمنو هيوادونو د کابينو د غونډو په روښانه او مجللو خونو کې، ترټولو لوړ مقام او د ناستې ځای ورکړ شو او ځنګه څواکمن ورِ سترګي (حريص) د دوي د ترلاسه کولو په موخه دسيسې، چې پر هغو يې د جيوپوليتکو، جيواوکونوميکو او ستراتيژيکو ګټو نوم ايښی دی، طرح او هغه يې بيا د نړۍ په هغو برخو کې، چې د طبيعي زيرمو له پلوه بډايې دي، په دغې يا هغې پلمې د عمل په ډګر کې پلي کړې.

د اومه توکو په ځانګړې توګه د لرپيداکېدونکو فلزاتو او فسيلي انرژۍ دغه ارزښت ته په پام سره، له سرې جګړې څخه وروسته، نه يوازې دا چې دغه سياست بدلون و نه موند، بلکې د دربيمې زريزې په لومړۍ لسيزه کې د طبيعي توکو پر سر سيالۍ لا پياوړې شوه. ان د تيرې پيرۍ د ۱۹۵۰ ـ ۱۹۹۹ کال تر منځ مهربان حاکم ياني متحدو ايالتونو د نړۍ " په مهمو او کليدي ستراتيژيکو سيمو کې د خپل شتوالي او د هغه د پراختيا په ارزښت تينګار ..." [(۱)] کاوه. د واشنګټن د ستراتيژيستانو له نظره:

ـ لومړۍ دِله کليدي سيمې هغه هيوادونه او سيمې دي، چې دوي لا تر اوسه د اومه توکو پاتې زيرمې په خپل واک کې لري او اوسمهال هم په هغو کې دا ډول زيرمې موندل کيږي؛

ـ دوهمه ډله کليدي سيمي د متحدو ايالتونو د [بالقوه] سيالانو په ګاونډ کي پراته هيوادونه ګڼل کېږي [۲].

د نړۍ د اومه توکو پر پاتي زيرمو په تيره د تيلو او ګازو پر هغو کنترول د سترو صنعتي هيوادونو لپاره ځکه ځانګړی ارزښت لري، چي:

۱ ــ له يوې خوا د اومه توکو زيرمي مخ په خلاصيدو دي؛

۲ ــ او له بلي خوا په نړيوال بازار کي هغو ته غوښتنه (تقاضا) په ډراماتيکه توګه زياته شوې ده. دغه دواړه په دې برخه کي د تنکسياوو د رامنځته کيدو لامَل ګڼل کېږي.

د بيلا بيلو رسنيو د رپوټونو او خبرونو د ارزوني له مخي او همدارنګه د څيړونکو له څيړنو هم څرګنديږي، "هر چيري چي ناارامي دي، هلته د اومه توکو او د انرژئ زيرمي شته دي، نو ځکه په دې سيمو کي جګړې په ډير شدت سره دوام لري"[۳]. له افغانستان څخه نيولي تر منځني ختيځ پوري، بيا د فارس له خليج نيولي تر لاتيني امريکا پوري ...، د افريقا د وچي په ځينو هيوادونو، لکه روندا، نايجيريا، د عاج ساحل، سوماليا، سيرياليون، زيمبابوی، سودان، انګولا ... او داسي نورو کي جګړې، د هغو ښې بيلګي ګڼل کېږي. همدارنګه په ګرجستان، اوکراين او قرغيزستان کي ګډوډې او سياسي بدلونونه هم همداسي در واخله.

داسي برېښي، چي هغه صنعتي هيوادونه او نوي رامنځته شوي صنعتي هغه، چي د دغو توکو له طبيعي زيرمو بې برخي دي، د هغوي د سمبالښت په برخه کي له تنکسياوو سره د مخامخ کېدو په حال کي دي. نو ځکه د لومړنيو اومه توکو د سمبالښت تضمينول، هغه ښتيزه انګيزه ده، چي ورځ په ورځ د دغو هيوادونو د بهرني سياست په ښتيزي موضوع بدليږي.

نو ځکه ويلي شو، چي د اومه توکو د زيرمو، په تيره د لږ پيداکېدونکو منرالي او هايدروکاربني هغو کنترول د اتلانتيک د سمندر د دواړو غاړو، د اروپايي ټولني او متحدو ايالتونو، د جګړه بيزو پلانونو له ښتيزو مفاهيمو څخه ګڼل کېږي [۴]. خو داسي برېښي، نوي رامنځته شوي صنعتي هيوادونه د نورو ترڅنګ د چين ولسي جمهوريت هم اوس په نړيواله کچه د اومه توکو پر سر سره جګړه پيل کړې ده. که څه هم دغه هيواد په خپله د تيلو او د لږ پيداکېدونکو منرالي اومه توکو د زيرمو خاوند دی، خو سره د هغه يې هم د افريقا د وچي او ځينو عربي هيوادونو سره د ښو اړيکو له لارې پر زياتو دا ډول کانونو کنترول ترلاسه او د هغو د رااېستلو حقوق ترلاسه کړي دي. نوځکه د اروپايي ټولني د صنايعو د څانګو چاراواکو د ګواښ اعلام کړی، که اروپا د لږ پيداکېدونکو اومه توکو د ترلاسه کولو لپاره هاند و هڅه و نه کړي، نو ښايي د ټولني د غړو هيوادونو د ډيرو اقتصادي څانګو، په ځانګړې توګه د ميکرو الکترو تخنيک او د وسلو د صنايعو د څانګو شتوالی له ګواښ سره مخامخ شي. له همدې امله د المان د صنايعو د ټولني يو لوړ پوړی چاراواکي، اولرېش ګرېلو Ulrich Grillo ګواښ کړی، چي د لږ پيداکېدونکو اومه توکو په برخه کي وضعيت په ډراماتيکه توګه د خرابيدو په حال کي دی. د دا ډول اومه توکو شمېر، چي صادرونکو هيوادونو پر هغو ګمرکي محصولات تړي و، په ۲۰۰۸ کال کي ۴۵۰ و. خو په ۲۰۱۰ کال کي د هغو شمېر زرو توکو ته لوړ شو. د نوموړي په اند: "زيات شمېر هيوادونه، د لږ پيداکېدونکو اومه توکو د صادراتو په برخه کي په لوی لاس تنکسياوي (محدوديتونه) رامنځته کوي" [۵]. نو ځکه ګرېلو Grillo د المان له حکومت او د اروپايي ټولني له مسؤل کميسيون څخه وغوښتل، چي د دغه تنکسياوو په

وړاندي عكس العمل وښيي. همدې ستونزې ته په پام سره د اروپايي ټولني د صنايعو د چارو كميسار، ګونتر فرهيوګين Günter Verheugen تر هر څه دمخه دا لاندني كامونه ترلاسه لاندې ونيول:

ــ د مخ په خلاصيدونكو اومه توكو د ډولونو د ليست ترتيب؛

ــ د دغه توكو په باب له هغو افريقايي هيوادونو سره د خبرو اترو پيل، چې د دا ډول اومه توكو زيرمي لري؛

ــ او ترټولو مهم د اروپايي ټولني له خوا د چين ولسي جمهوريت ته ګواښ. ځكه دغه هيواد د لږپيداكېدونكو اومه توكو د صادراتو په برخه كې د كمركي محصولاتو د لوړولو له لارې تنكسياوې رامنځته كړي دي[۶] .

كه د دغو توكو په ترلاسه كولو كې نورې ستونزې رامنځته شي، نو ښايي د هغو بيه لا نوره هم لوړه او په دې توګه به د صنايعو ځيني څانګي د له منځته تلو له ګواښ سره مخامخ شي. له همدې امله د متحدو ايالتونو دولت هم ګواښ كړى، كه چين خپلې دغې ستراتيژۍ ته دوام وركړي، نو دوي به دې ته اړ شي، لكه د اروپايي ټولني په څير د سوداګرۍ نړيوال سازمان WTO ته شكايت وكړي. خو د اروپايي ټولني او متحدو ايالتونو له دغو ګواښونو سره سره، بيا هم چين څو ورځې مخكې اعلان وكړ، چې د لږپيداكېدونكو اومه توكو پر صادراتو به د ۲۰۱۱ كال له پيل څخه لوړ محصولات ولګوي [۷]. له دې ارزوني دا پايله ترلاسه كېږي، چې ان لا اوس د دا ډول اومه توكو، د هغو د زيرمو او راكړې وركړې پر سر شخړې او جګړې په ښكاره او پټه توګه رواني، چې بنسټيزه موخه له دا ډول كړو وړو څخه د سيال بې برخي كول له دغو توكو څخه دي.

نور بيا

اخځایونه:

۱ ـ **تیل او جګړه** Das Öl und der Krieg

**لیکوال:** یورګین واګنر Jürgen Wagner

ژباړونکی: شریف بهاند

**اخځای:**

**نړیوالیدل او جګړه، مخ: ۴۸ ـ ۶۶**

Wagner, Jürgen: Das Öl und der Krieg. In: C. Haydt/T. Pflüger/J. Wagner: Globalisierung und Krieg, Hamburg, 2003,

۲ ـ وګورئ هماغه اثر

3- Kronberger, Hans: Blut für Öl. Der Kampf um die Ressourcen, Wien ,1998, S. 26

۴ ـ وګورئ،

تیل او جګړه

**لیکوال:** یورګین واګنر

ژباړونکی: شریف بهاند

**اخځای:**

**نړیوالیدل او جګړه، مخ: ۴۸ ـ ۶۶**

Wagner, Jürgen: Das Öl und der Krieg. In: C. Haydt/T. Pflüger/J. Wagner: Globalisierung und Krieg, Hamburg, 2003,

5- http://www.spiegel.de/wirtschaft/unternehmen/0,1518,711559,00.html

۶ ـ وګورئ، هماغه اثر

7- http://www.spiegel.de/wirtschaft/unternehmen/0,1518,736508,00.html